# د اختر لمونځ او د هغې طريقه

**<u>لغة البشتو</u>**



# د اختر لمونځ او د هغې طريقه

په اسلام کې د تشريع له مهمو موخو څخه د مسلمانانو ترمنځ د زړونو يووالی، مينه او وروروولي ده.
له همدې امله الله تعالی په ډېرو عبادتونو کې راغونډېدل فرض کړي.
يو له هغې جملې څخه د اختر لمونځ دی، دې وجې نه رسول الله صلی الله عليه وسلم به ټولو خلکو ته د اختر لمونځ ته د وتلو لپاره امر کاوه.
تر دې چې حايضو ښځو ته به يې هم امر کاوه، او ويې ويل: چې دوی دې هم د مسلمانانو په خير او دعا شرکت وکړي.

او دې لپاره غسل کول ځان ښايسته کول او سينګار کول مستحب عمل دی.
د کوچني اختر په ورځ د اختر لمونځ ته له وتلو مخکې په يو څو خورما خوړل مستحب دي.
رسول الله صلی الله عليه وسلم به د کوچني اختر په ورځ تر هغه وخته پورې نه وتلو تر څو چې به يې يو څو خرما نه وي خوړلي.

د لمانځه وخت يې د لمر د يوې نېزې د ارتفاع څخه پيلېږي

تر زواله پورې دی.

او مستحبه طريقه داده چې په خلاء يا مصلَّی کې لمونځ وکړی شي نه په جومات کې، که د لمانځه ځای ته تلل ممکن نه وي او يا ورته تلل ستونزمن وي دې وخت کې په جومات کې کولو کې هم څه باک نشته او د اختر لمونځ لپاره اذان او اقامت روا نه دی.
ځکه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم به د کوچني او لوی اختر په ورځو کې مصلی ته تللو.

او لومړی کار چی به يې کاوه هغه به لمونځ ، د اختر د لمانځه طريقه دا دوه رکعته دی.
په لومړي رکعت کې به له تکبيرة الاحرام او ثنا ويلو وروسته به شپږ تکبيرونه وکړې.
او په دويم رکعت کې به د انتقال تکبير وروسته پنځه تکبيرونه وکړې.
او د هر تکبير سره به لاسونه پورته کوي.
او د تکبيرونو په مينځ کې به د الله تعالی تسبيح او حمدونه کوي.
او په دواړو رکعتونو کې يا سورت الاعلی او يا سورة الغاشيه لوستل او يا سورت قاف او قمر لوستل مستحب دي.

بيا به امام د لمانځه وروسته د جمعې د خطبې په څېر دوه خطبې وکړې چې خلکو ته پکار دي چې دې خطبه کې

شرکت وکړي.

دا رنګه خلکو ته پکار دي چې مصلی ته وختي راشي.

دارنګه خلکو ته پکار دي چې په یوه لاره لاړ شي او په بله لار باندې بېرته کورونو ته راستانه شي.

او که د چانه اختر لمونځ تېر شو، سنت طریقه داده چې بېرته یې په هماغه طریقه قضاء راوړي.

د اختر خوشحالي نه بشپړیږي مګر د الله تعالی په پیروي او د هغه د اوامرو په عملي کولو او هغه څه چې مونږ ته یې شریعت ګرځولی.